مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۳/۰۷/۰۵

لیکوال: عبدالوحید وحید
رالېږونکی: غمی

# د ولس له باورونو سره د واک د مجنونانو لوبه

دغه هېواد د هر افغان کور دی، هر افغان يې دحرمت او عزت د ساتنې دنده او په ښېرازي کې د برخې اخيستلو حق لري. موږ د ماضي روښانه دوره د وياړ لپاره ياد ساتو، ځورووونکې اړخونه يې د تاريخ حافظې ته سپارو او په راتلونکي کې يې د تياره برخې د تکرار په مخنيوي کې خپلې هڅې نه سپموو. دَ قانوني نظام د رامنځته کولو فرصتونه رامنځته شوي وو خو متاسفانه څه برخه يې د چاپلوسانو د ذهانت او د حاکمانو د غفلت له امله ضائع کړای شول. د واک لپاره ډېرې جنګ سالاران د ملت په ستوني کې کينول شول او ډيرې سرې کرښې شاته پرېښودل شوې، نو اوس له زورواکانو او جنګسالارانو سره له يو ځای کيدو څخه انکار ګټه نلري.
کله چې ارګ مشران په قرآن کريم او اساسي قانون باندې لاسونه کيږدي چې د وينې تر وروستي څاڅکي پورې به له نظام او اساسي قانون څخه دفاع کوي، خو دا ټولې ژمنې او لوړې دروغ ثابتې شي؛ عسکر دا ژمنه پوره کړي، خو مشران له هېواد څخه د خپل ځان ايستل غوره وګڼي، د ارګ نازولي او د امنيتي سکتور مشران لسګونه ميليونونو ډالر له هوايي او
ځمکنيو لارو بهر ته واستوي، د کابل د دفاعي او عملياتي بوديجې تر نامه لاندې او په نورو پلمو په سلګونه مليونونه ډالر چور شي، د ملي شتمنيو د غلو د ژوند ژغورلو لپاره د زرګونو سرتيرو وينې توی شي او له ولسونو سره ناروا لوبه وشي، ناهيلي خو به حتماً رامنځته کيږي، باورونه به خامخا له منځه ځي، غبرګون ښودل کيږي، احساسات را پارېږي او بيا د فرصت ترلاسه کول اسانه کار نه ښکارېږي.
د ماضي تورو داغونو او ځورووونکو اړخونو ته په کتو فکر نه کوم پخواني ارګ ميشتي بيا واک ته د رسيدو چانس ولري. البته که هغوی غواړي د خپلو ګناهونو وزن کم يا هم د خپلو سهوو د جبران کولو هڅه وکړي، تر ټولو ښه کار دا دی چې خپلې غلطيانې بيځايه کړنې او نيمګړتياوې د قلم له نوکې لاندې راوړي تر څو راتلونکي واکمنان ورڅخه ګټه واخلي او په فساد کې ښکېل افراد په يوه عادلانه محکمه کې وړاندې کيدو ته په تمه واوسي.
که په اوسنيو ستونځو ته راوګرزو نو وينو چې؛ که په منبر باندې ناست او په محراب کې ولاړ هغه انسان چې ځان واجب الاحترام ګڼي، په اجرائيه مقام د نورو خلکو حق تلفي او ظلم پيل کړي او کله چې د ټولنې د نفسياتي رنځونو معالج په خپله خپل ولس ته له واک سره د مينې د ويروسونو ليږدوونکی شي، نو دَ روحانيت مقام حتماً خپله پخوانۍ سپيڅلتيا بايلي
او د رسول الله د وراثت دعوه کوونکو ټولنيز حيثيت ته زيانونه اوړي. په ديني عالمانو باندې ولسي باور له منځه ځي، ناوړه غبرګونونه رامنځته کيږي، په ټولنه کې نفرتونه ځاي نيسي، ټولنيز پاڅون چاودون او اوښتون ته لاره هوارېږي.
خوښ يم چې امنيت که څه هم يوازې فزيکي دی خو د پخوا په پرتله سرتاسري او د پياوړي حکومتولي نښه ده. دَ هر ډول فساد کچه ښکته ده، دَ حکومت په جوړښت کې درزونه او د واک جزيرې نه ښکارېږي. زورواکان په ذره بين کې هم نه ليدل کيږي البته ستونځه داده چې له امنيت څخه ورهاخوا په هېواد کې روان بد اقتصادي وضعيت، ترينګلي سياسي صورت حال، له ولس او نړيوالې ټولنې سره د تقابل صورت حال او مطلقاً د ډنډې په زور واک چلول هم په جدي ډول انديښنې ايجادوي. له دغه شان صورت حال څخه د وتلو لپاره جدي ګامونو پورته کولو ته اړتيا ده او د اصلاحاتو رامنځته کولو لپاره داسې امکانات شتون لري چې په تيرو پنځو لسيزو کې يې شتون نه درلوده او شايد په راتلونکي کې يې هم ونلرو.
د سياسي مشرتابه په چوکۍ باندې له ناست ملا څخه د داسې روحاني شخصيت تمه درلودل لکه چې په منبر او محراب کې به راته مخاطب وو او بالعکس په اجراييه چوکۍ باندې د ناست ملا لخوا له ولس څخه لکه په منبر ملا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ته د ناستو او په محراب کی ولاړ ملا پسي د ولاړو خلکو په شان د چوپ پاتي کیدو او هیڅ ډول انتقاد نه کولو توقع کول نه
ممکن او نه هم مشروع ده. متأسفانه ځیني سیاسي ډلي او تعصباتو ته هوا ورکوونکي رسنۍ اوسنی حکومت قومي تعصباتو ته په لمن وهلو تورنوي، خو واقعیت دادی چي اوسني چارواکي د دین له ادرس څخه واک چلوي او قومي تعصب باندي باور نه لری. د خپل ځان واجب الاحترام ګڼلو له امله طبقاتي او جنسیتي تبعیض له امله تعصباتو او خورا بدو غبرګونو ته لاره هواروي. اوس د چارواکو د ځینو کړنو له امله په ټولنه کي د ملا سپیڅلي مقام ته اوس غبرګون ښودل کیږي.
په بشپړ باور سره ویلای شم چي د چاروکو لخوا کارول شوي لاندې اصطلاحاتو باندي اوس نه د ولس په وړاندې د باور نه کوي، نه هم له عیني واقعیتونو سره اړخ لګوي، بلکي د دیني عالمانو ټولنیز حیثیت ته یې زیان واړاوه.
بښنه عمومي ده، کار اهل کار ته سپارل شوی دی. دَ انجونو په زده کړو باندي بندیز عارضي دی، ولس باید د اسلامي نظام په رامنځته کېدو خوشحاله واوسي. د خلکو ژوند تر پخوا ښه شوی دی، د حکومت تګلاره اقتصاد محوره او منځلاري ده زموږ حکومت ټول ګډونه او پراخ بنسټه دی. نړیوال باید له حکومت سره د مثبت تعامل لاره غوره کړي، اوسني نظام مشروعیت لري او نړیواله ټولنه دي ژوند ته د خطر ترعنوان لاندې زموږ کادرونه له هیواد څخه نه باسي.
ټول ګډونه او پراخ بنسټه حکومت اصطلاح له مودو راهیسي
کارول کېږي. ستونځه د تعبیرونو ده چي په حکومت کي له امتیازاتو څخه برخمن افراد او ډلي یې یو ډول او له امتیازاتو څخه محروم افراد او ډلي بل ډول تعریفوي. له تېرو څو لسیزو راهیسي دلته هر چا د خاورې هېواد د ساتلو، دیموکراسي، ازادي او خپلواکي تر عنوان لاندې، د اسلامي نظام عمري عدالت په نوم د واک لپاره له ولس او هېواد سره لوبه وکړه. نتیجه داسي شوه چي ولسي باور له منځه لاړ او ملت ناهیلی شو.
که اوسني وضعیت ارزونه وکړو نو پوهیږو چي که په هره تله کي یې وتلو که هر ډول معیار ورته بنسټ وګرزوو او که په په هر فورمول کي یې واچوو، خو دَ اوسنیو چارواکو دا خبره چي حکومت یې ټول ګډونه دی یقیناً د حیرت او تعجب باعث ګرزي. ای کاش په منبر ناست او په محراب کي ولاړ پرېښته صفته انسان مو په اجرائیوي لوړو پوستونو باندي لکه د اوس په شان ناست نه وای لیدلي. زموږ عقیده یې زیانمنه کړه او ټول باور یې راته ګډوډ کړ.
د حکومتونو د سکوتي ناکامي لپاره دا بسنه کوي چي د اقتصادي، ټولنیزو، امنیتي او سیاسي ستونځو له امله یې ځوان نسل او علمي کادرونه له خپل هېواد څخه د وتلو لپاره قانوني او غیرقانوني لارې کاروي، په خپل هیواد کي د پاتي کیدو په پرتله په پردیو هېوادونو کي د غربت او ناهیلي توب بوږنوونکي ژوند ته لومړیتوب ورکوي، د دوو کالونو له تېریدو
وروسته هم په معیارونو ولاړ نظام او اساسي قانون ونلري او هیڅ هېواد یې په رسمیت نه پېژني، خو حاکمان په لوکس کورونو کي اوسیږي زرهي موټرو کي ګرزي لوړ معاشونه اخلي، ځان اشرف المخلوقات ګڼي او د خپل ملت د ناوړه وضعیت په تړاو د مسئولیت احساس ورسره نه وي.
ډېر ښه شته چي د مصلحتونو او نورو لاملونو له امله یې نه لیکم او غواړم له وخت او شرائطو سره تعامل وکړم خو دَ انجونو په زده کړو باندي ناروا بندیز د ولس په ستوني کي پښه ایښودل او په هیڅ ډول راته د منلو وړ نه دي. که یوازې له ښځو څخه د زده کړو ثابت شوی حق سلبول د خپلو او د حکامو د مسئولیتونو او مکلفیتونو په ترازو کي وخیږو، نو دغه مظلوم او محکوم قشر ته به د ټولو حقونو د ورکولو په خبره کي هیڅ وزن او ارزښت پیدا نکړای شو او یوازې همدغه حق تلفي به د اوسني حکومت د عدالت دعوه په جدیت سره له پوښتنو لاندې راولي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ